دگلپانو پرخی



فاروق فردا

کمیتهٔ دولتی طبع و نشر ج.د.ا
شمارهٔ ثبت ۶۶

دسباسپین لاسونه

په تورو تورو اتکړو کی د شپی

هسی لانبکیل پاتی وو

* * *

چی لمـر راوځلید

او اتکړی اوبه شوی

دتوری شپی غوټه هم پرانستل شوه

PROPERTY OF ACKU 2808

د گلپانو پرخی
شاعر : فاروق « فردا»
دچاپ ځای : گوندی مطبعه
مهتمم : امین الله «بشردوست»
تیراژ : (۳۰۰۰) توکه
کابل : د ۱۳۶۵ کال د قوس میاشت

یادښت

د لته زموږ په وړاندی دځوان
شاعر فاروق فردا لو مړۍ شعری
مجموعه پرته ده او زه یقین لرم
چی لوستو نکی به ددی مجمو عی
له لو ستلو وروسته پدی وپوهیږی

چی زموږ په انقلابی و طن کی
زموږ ځوان شعر ، زموږ د خلکو
روا مبارزه څنګه او په څه ډول په

بیلا بیلو شکلونو تر سیمو ی .هو،
لومړی شعری مجموعه . کله چی
لو ستو نکی د لومړی شعری
مجمو عی په مفهوم پوهیږ ی په
ذهن کی یی لومړنی ، تجر بی ،

خام شعرونه او لومړنی ګامو نه
مجسم کیږی ، خصو صاً د فردا د
دغی شعری مجموعی له لو ستلو
وروسته پدی باور پیدا کړ چی

همیشه دا ډول ذهنیت سم ندی .
زه پدغه مجمو عه کی له ډ یر و
پخو او لوړو شعرونو سره مخامخ
شوم او وهی لیدل چه فردا په

لنډه موده کی ډیره اوږده او له
اغزو ډکه لاره وهلی ده او لا په

متانت او قـوی هوډ دغـــه لاره
نغاړی .

فردا تر هر څه د مخه یو متعهد
او رسالتمند شاعر دی . مینی ته
متعهد ، وطن ته متعهد اودوطن
ساده او زیار ایستو نکی ا نســا ن
ته متعهد دی .چی هر څه وایـی
او هر څه لیکی ، وایی یـــی او
لیکی یی ، خو یوه شیبه هم خپل
تعهد او رسالت نه هیروی ، ا و
باید هم هیر یی نکړی ، ز مو ږ
د وطن ځوان شاعر چی د نو یـــو
اند یښنو او مفکورو استاز ی دی،
باید همدا سی وی نه بل ډول .

دا یو څرګند حقیقت دی چـی
ژبه په شعر کی هغه و ظیفه ترسره
کوی چی په موسیقی کی یـــی
صوتونه او په انځور گری کی یی
کړښی اورنګونه سرته رسـو ی .
شاعر حق نه لری چی هر رنګه‌یـی
چی زړه وغوښتل‌هغسی کـلمی او
توری راواخلی ، څنګ تر څنـګ
یی کیږدی او په‌اصطلاح شعر تری
جوړ کړی ، بلکه د اوسنی زمانی
آګاه شاعر دنده لر ی چی دخپـل
شعر لپاره ښکلی او د ښی معنـــا
لرونکی کلمی او توری وټا کی ،

د شعر ژبه باید صیقل شوی و ی او تصادفی اوزایدکلمات ونلری . له نیکه مرغه چی فاروق فـــردا دی ټکی ته متوجه دی ، دده د شعر ژبه اکثراً ساده ، خوږه ا و روانه ده ، خو کله کله یی پـه ځنی شعرونو کی ژبه نښـــلی ا و خپله طبیعی ښکلا له لاسه ورکوی، دی باید د ی ټکی ته تر پخو ا لا زیا ته توجه وکړی.

فردا په کلی کی زیږیدلی ، هم هلته لوی شوی او کلیوا لـی صفا او صمیمیت یی په وینه ا و رګونو کی ځای‌لری، نو له‌همدی کبله دې چی دده په شعرونو کـی کلیوالی سپیڅلی‌او ساده صمیمیت څپی وهی او ځکه یی شعرونـه دریا، تزویر، دروغواو عوامفریبی بوی نلری . دفردا په شعرو نـو کی مینه ، صداقت او صمیمیـت داسی جاری دی چی ته به وایی چی دی خپل‌ځان‌او خپل شخصیت ته په هغی کی صیقل ور کو ی او خپل فردیت ته دهغی په مقد سه ټولنه کی کمال وربښی.

د فاروق فردا پدغه مجمو عـه کی سربیره پر ځنو ښکـــلو زړه

وړونکو غزلو ، آزاد شعرونه هم
تر سترګو کیږی ، دا بر خه د
فردا د اوسنی مجمو عی ځلا ند ه
برخه ده ، لدی سره سره چی د
د پښتو د آزاد شعر له عمر څخه
زیات وخت نه تیر یږی خو په
دغه لنډه موده کی یی دا هیله
په زړونو کی ژوندی سا تلی د ه
چی دپښتو د شعر راتلونکی به لا
روښانه ، لا سمسوره او لاځلاند ه
وی ، او د فردا ځنی آزاد شعرونه
زموږ دغه هیله لا پسی زیا تو ی ،
خو فردا باید په نظر کی ولر ی
چی زموږ اوسنی او راتلو نکی
پښتو شعر باید له یوی خوا زمو ږ
د هیواد او په ځانګړی ډول دپښتو
کلا سیک آدب له تل پاتی اوتل
جاری چینی څخه اوبه و څښی او
له بله پلوه باید د نړیوا لو
آدبیاتو له غنی او شتمنی پا نکی
څخه پراخه ګټه واخلی او زمو ږ
اوسنی شاعر باید دی ته همیشنی
پاملر نه ولری چی اوسنی شعر
یا معاصر شعر په رښتینی ما نا
شعر دی او په هغه کی با ید
بی لدی نه چی نورو څخه په
اصطلاح نقل با النقل تقلید وشی
له نوی تر کیبو نو ، اشعارو ا و

هنری بڼو څخه د خپلی ژ بـــی د اصالت په نظر کی نیولو ســره ، استفاده وشی ، زموږ اوسنی شا عر باید شتمن مضمون په ښکلی ا و بدیعی بڼه بیان کړی او په‌خپـل شعر کی‌دمضمون‌او شکل‌د یالکتیکی ارتباط او تناسب رعایت کړی .

فـاروق فـردا زموږ د پښتـود ځوان شعر له ښو استعدادو نـــو څخه دی، موږ د ده د شعرونو پـه لوستلو باور پیدا کوو چی د ی ، د قوی شاعرانه تخیل او قریحی خاوند دی ، او دی هڅه کو ی‌چی د پښتو په سر شت او ما هیـــت لومړ ی ځان وپوهوی ، ټو لنیز و تضادونو ته ځیر شی او خپل شعـر د رزم او مبارزی دتیری وسلی په حیث استعمال کړی او بیا یـــی شعر یوه داسی آیینه شی چـــی هم دی او هم نور، خپل ځانونـه پکی لـــکه هغـسی چـی د ی ، وګوری .

فردا ځوان دی او ډیره اوږده او سخته لاره په مخ کی لری ، پدی لاره باید ټینګ او مصمم په وړاندی لاړ شی . ســتو نـــز ی وزغمی او دخپل شعر دســره با غ

دسمسور تیا لپاره په خپل شاعر زړه
د اغزو پر هرونه و منی . او که
داسی وشول نو موږ کولای شـــو
باور ولرو چې فردا به زموږ دفردا
پښتو شعر لا رنګین او لا سمسو ر
کړی.

د فـــاروق فردا د ځوان شعری
استعدادددلاغوړیدو اوسمسورتیا
په هیله .

صدیق کاوون

د «فـــردا» د «نـــن» دشاعرۍ دغه جونګ

په‌ځوا نه پښتو شاعری کی‌چی
کومی هڅی ، کومی هیلی، کو مې
ولولی او کو می هنګا می‌پر تی
دی، دابی له‌شکه چی دځـوان
شعر د بنایست او دلاپیا وړ تیـا
له پاره یی دیون بنی او بنکلی
نبنی نبنا نی شمیر لی شو .

په‌همدغه ځوا نه اوله و لولو
ډکه لړ ی کی او دسبا له پـــاره
دلابنا یست د« نن» دیون په دغه
مزل کی دځوتنو ځوا نو او بـــا
استعداده شاعرانو دصدا قـــت
هڅی دپوره ارز بت اوستا ینـی
وړدی. دوی چی نن ځوا نـه او
خوږه شاعری کوی، دوی چـــی
نن دشعری ، ادبی ا و هنر ی
تجاربو پر پیچلی او کړ کیچنـه
اوله مسئولیته ډکـــه لاره دروا

نید وتکل کړی دی او خپل ټول
هو ډو نه اوتکلو نه یی دسبا دشعر
د سبا دادبیاتو او دسبا دسمسو ر
او غوړیدلی فرهنګ دپناوړ تیـا
او بنایست په امیـــدو نـــو
کی سره نغښتی اویو ځای کـړی
دی. دوی‌چی دسبا شعرته‌به دنن

اوسبا له لوړ وژورو، غږ نـــو
او سمندږو نو څخه پورې و ځـی
او ځان به‌هلته رسوی، هلته،سبا
ته، فرداته ،اوددغی لاری یـــو
ځوان لاروی، یوځوان شاعرفاروق
فردا دی، هغه چی‌دهځو او هلـو
ځلو دلارو لاروی دی دولو لـــو
د لارو او دشعری لارو. هغـــه
چی یو وخت یی دحریق په نـوم
هم شعرو نه خپر یدل هغه چـــی
له« حریقه» راووت او ایری‌تری
راونه ووت، (فردا) تری راووت
او دفردا ، دسبا دشاعری لـــه
ښو اوپیاوړو امیدو نو سره !

ددغو څو کلو نو په موده کـی
چی فاروق فردا شاعری کـوی ،
موږ دهغه په شاعری کی دودی او
تکړه توب او ښکلی توب ښـــه
ننداره کولی شو. دهغه شعرو نه

چی نن یی له پرون سره کور ټ
تو پیر لری او ډیره وده یـــی
کړی ده ډیر ښه مـزل یـــی
وهلی دی ، هنری ښکلا وی یی
زیـــا تـــی شـــو ی دی ،
که د شا عـر د شـا عـرا نـــه

لارو په او ږدو کی او که دشعری
ژوند دمز لو نو په اوږدو واټنو نو

کی دغه بدلو ن او دغه وده راځر
ګنده نه شی نو څنګه به‌دسبا په
معاصرو ادبیاتو کی شاعر دځلید-
ونکی دریځ لرونکی شی !

دفاروق فردا دشاعری دغه
مجمو عه دهغه دټولی‌شاعری بشپړه
مجموعه نه ده.

دا دهغه دپرون اودنن دشاعری
یو نمو نه یی جونګ دی ا و د
(فردا) له پاره یو چمتو وا لی.
دفردا په دغه شعری مجمو عه کی
دموضوع او محتوی له‌پلوه په‌بیلو
بیلو مسایلو کی دهغه شعرو نه
راغلی دی. دفورم له اړ خه هم
دشاعر په دغی مجموعه کی‌غز لی-
قطعی ، آزاد شعرو نه ترانی او د
طرحو بیلګی راغلی دی. دفردا
دشا عری په دغه مجمو عه کی له
هنری اوشعری اړ خو نو څخه
ډیر نوی او ابتکار ی‌ټکی راځر
ګند شو ی اوبیان شو ی‌دی . د
هغه غزلی نبی او بنکلی دی ا و
آزاد شعرو نه یی‌هم د ډیرو ښو
اونویو ټکو لرونکی . د د ی په
څنګ کی ښا یی کله‌کله د فر د ا
په‌شاعری کی ځینی نیمګړ ی څه
هم ولیدل شی. څرنګه چی فر دا
ځوان اوبااستعدا ده شا عر دی او

دشعر په کره کتنه مین شا عر ،
نو ځکه یی ددی مجمو عی ددغسی
څو اړخونو یادونه هم بی ځایه
نه‌بو لو .
کله‌کله ځینی شعرونه ز یا ت
پیچلی شو ی او لکه چی شا عر-
یی د قافیی او ردیف د جوړښت
او برابر ښت له پاره د شعـر
محتوی ځار کړ ی وی. دغـــسی
نمونی ته‌غور وکړ ی :

آسری د اوښکو نم شو ی د
جانان په ز ړ ه تسل
خیالو نه لیونی شول د ارما ن
په زړ ه تسل
دوریځو اننگو کی دسـپیڅ و
دزړ ه کتریی
دمینی سپیلنی شو ل دآ سمان
په زړ ه‌تسل
دسترگو په کتو یـی شـــو
پیغور د مینی جوړ
پیغور دځیر کتو شو دآ ر مان
په زړه تسل
«داو ښکو د مو سکا لمنـــه)
په‌نوم شعر کی‌هغه وا یی :
په‌ستر گو می‌داو ښـــــکو د
مو سکا لمنه سره شو ه
اوبیا زما دمینی دژړا لمنـــه
سر ه شو ه

ماو لیدلی لیچی تکی سپینی
دآشنا
په‌شر نگ‌یی د بنگړ و کی
دښکلا لمنه سره شو ه

چی په خُینو بیتونو کی د غه
د (لمنی سر ه کیدل) بڼه
شاعرانه مفهوم نه‌دی را غلی .
په‌یو نیم شعر کی څه ژبنی
نیمگړ تیاوی هم را تر
سترگو کیدلی شی لکه :

لیدو می دآشنا را ته کو څی
شوی د فلک
وهی می زړ ه تا لونه پـه
ربښتیا قدم قدم

یادا چی :

ماته چی لیمی شولی ا غز ی
اغزی
تاته اند ینښی شو لی ا غزی
اغـزی

ددغه آزاد شعر په پیل کی
د وزن نیمگړ تیا راڅرگندیږی .

شپو نکیه وخا نده او
بنه وخا نـده
خانده ورشو کی‌له ر مو سر ه
دی
چی پسرلی کی یـه شپـو
نکیه دخندا ور څی دی ...

د« وطن په‌خاطر »کوم شعر

چې ګران فردا کومې خار جـــې
پیغلې ته لیکلې نو په پیل کـــې
یې وا یې :

بیا می څله تخنوی ته
دفنلند دجنت حور ی ...

چې ددې شعر محتوی اوسو ړه
زمو ږ دمعا صرو شاعرا نـــــــو
سلیمان لایق (جاپا نې پیغلې)
او دکاوون تو فانې د« هوسو نو
مر غلره » له شعر و نو ســـر ه
ډ یر زیات ورته والې لرې البته
فردا په کې څه نوی ټکې هـــم
په‌پام کې لر لې دی .

خو که له ځینو دغه ډول ټکـــو
څخه را تیر شو د فارو ق فر د ا
په شعر کې ډ یر ښه او ښکلـــــې
شاعرا نه تصاو یر هم را غلـــــې
دی. دمو ضو ع او هنرې بیان له
دوا ړ و خو او څخه جا لب مسا یل
په کې را څرګند یږی . د فرد ا
په غزلو کې‌کله دمعا صر پښتـــو
غزل ټول ښا یست ځان‌رابنکا ر ه
کوی او ټول حسن.

او ښکه په لیمو دحسن پا نـه
شو ه
پاته په اغزو دحسن پا نه شوه
زه یې‌له کلونه سا یه بان ومه
وروسته له کلو دحسن‌پانه شوه

تا خوپری نادودی هسی‌تیر ی کړی

گوره چی پښتو دحسن پانه‌شوه
اویا په دغه بله غزله کـــی‌د
مازیگر ،دگودراو دفردادراتگ

مفا هیمو ته څو مره ښکلـــــــی
او څو مره نوی شاعرا نـــــه
بنه ورکو ی .

دفردا آزاد شعرو نه هم ښـــه
اودستا ینـــی وړ دی د آزا دی
شاعری په‌برخه کی لا مو ړ زیاتو
اواساسی هڅو ته ضرور ت لر و .

په‌دغه مجمو عه کی یی هـــم د
آزادی شاعری ځینی ښی نمو نی
خوندی شو ی دی خو هیـــله
کیږی چی هغه او هغوی به پـــه

ځوانه او معاصره پښتو شا عـری
کی دغه اړ خ ته‌هم لا نـــو ر ه
زیاته او عمده پاملرنه وکړ ی .

د«فردا » د «نن »دشا عر ی
دغه جونگ دځوان پښتو شعـــر

یوه ښه او په زړه‌پوری مجمو عه
ده . سباته دفردا شاعری لا ښـه
کیدو نکی لابشپړ یدو نکـــی
او لا ښکلی کیدو نکی لیده شـی

او چې داسې شو ه نو موږ بـه
سباته دفردا دشاعرۍ میـــدان
لاښکلې لا په زړه پورې او لا رنګین
وو ینو .

زرین انځور ۱۰ـ۵ـ۱۳۶۵

د شو نډو غزل

چی دتورو ز لفو دام ز ما تو کل شی
پری چی ستا په اننگوشو نډی‌غزل شی
دا به ستا دغټو ستر گو حماسه وی
چی‌ستا غیږه‌دوصا ل ز ما مقتل شی

لابه ته پخپل نظر کا نې اوبه کړې
ستاکه دومره نادودی راسر ه مل شی
نن وصال راته په سر وستر گوبو نیږ ی
نه‌چی لری هی د مینی خـــوږ منزل شـی
که‌دی نن زما په کور نظـــرمیلمه کړ
نوسبا به‌په زړ گی راته مشعـل‌شـــــی
زه به ولی د بیـلـتون لـــه‌غمـه ژاړم
چی زیارت زما د مینی ستـــادر شل شی

مینه تـسل

آسری داوښکونم شوی دجانان په زړه تســـل
خیا لو نـــه لیو نی شول دآرمان په زړه تسـل
دوریځوا ننګو کی دسپیـدو دزړه کتـــر ی
دمینی سپیلنی شول دآسمـان په زړه تســـل

دسترگوپه کتو یی شو پیغور دمینی‌جـــــــو ږ
پیغور دځیـرکتو شود آرمان په‌زړه تســـــل
داځکه لیو نی دی نن زما تروری‌او ښکـــــــی
توبی می د سروشونو وشوی دځان په زړه تســل
داوښکو بدر گه کی چی غیر تــه‌سر تیټ نه کـــړی
تینگ هوډبه‌دی وی هو مره دایمان په زړه‌تسل
ملک به زیاتی سروړی تر زنگو نه‌ستاپه وړاندی
چی مینه شی‌ترخدایه د توپـــان پــه زړ ه تسل
فریاد می دوچ ستونی دمیـــــن‌دمینی زړه کی
هر غږ به و ی‌دمینی دتاوان په زړه تســـــل

داوښکو دموسکالمنه

په سترګو می داو ښکو دمو سکالمنه‌سره شو ه
او بیازما دمینی‌د ژړا لمنـه ســـر ه شـــــوه
په سیوری د نظر می‌دخولګی طمع‌پر ته و ه
له شرمه یـی‌په شونډو د خندا لمنه سره شو ه

ما ولید لی لیچی تکی سپینـــی‌د آشنـــا
په شر نک‌یی‌د بنګړو کی دښکلا لمنه سره‌شوه
زرغونی به شی پا نې د ښا یســت‌د اننګـــو
خزانه ستا په‌یاد، که دبید یا لمنه سره شـو ه
لا شپې د بیلتانه زماله و صلـــه‌و هـی کو کـی
هجرانه ! ســتاد غم چی یو ځل بیالمنه سره‌شوه

دمینی اور

راځی زړه ته یا دو نه دآشنا قدم قدم
زه وړم ورته گلونه هر سبا قدم قدم

دمینی گریوان وړمه لیو نـوغوندی ترڅو
در زو نه دگر یوان می پەسلگوسلگـــی وهی
داوښکو بدر گو ته به دمینـیپه لار تلمـــه
یادو نه دآرمان می په سلگـوسلـگی وهـی
دزلفو هر قدم ته به یی سر پەسجده ویســـم
تا لو نه دایمان می پەسلگـوسلگـی وهـی
لمبی دڅوا نی مینی به سـړی نشی زمـــا
غمونه د هجران می په سلگـوسلگـــی وهی

د مینی هوډ

ماته چې لیمی شو لی اغـزی اغـــــزی
تاته اند یښنی شولی اغـز ی اغـــــزی
ستابه نو غمازه لا ستـــه څه درشـــــی
جوړی دی پیښی شو لی اغزی اغـــــز ی

نوره دی دځان په ویـــــرنـــو وژاړی
چاته چی پلمی شو لی اغز ی اغـــــزی
ماته دنظر لاره گلو نـــــه شـــــول
عشقه که نخری شولی اغـز ی اغـــــزی
څکم به یـی دحسن له پیالـونـــه څـــه
خیر که می توبی شو لی اغزی اغـــــز ی
گوره چی ماتیږی ریا خـــم پـــه خـــم
څه یی پیمانی شولی اغـزی اغـــز ی
ماچـی په تکـل داور ورو دانگـــــــل
لارکی می ایری شو لی اغـزی اغـــــز ی
زه یی دلمبو نه لو نـــــدرا و وتـــم
څـه هـــم که لمبی شو لـــی اغزی اغز ی

د حسن پانه

او ښکه په لیمو دحسن پانه شـوه
پاته په اغزو دحسن پانیـــه شوه

ماته یارانه مقتل دمینی شـــــو
مینه په کتو د حسن پانه شوه
زه یی له کلو نو سایه بان و مه
وروسته له کلو دحسن پانـــه شوه
هیله په تکل ستو مانه نه شـو له
ځکه می آرزو دحسن پانه شـوه
تاخو پری نادو دی‌هسی تیری‌کړی
گوره چی پښتو دحسن پانـه شوه

داوښکو منزل

اوښکی لیو نی ځی د منز ل په لو ر
ځکه می قلم خوځی ، غزل په لور
ماته دآشنا خو شالی ستر گی دی
خیر که می پری لاروی دا جل په لور

بس دی دی فر یبه ! ځا له‌تولـه‌کـه
پل به زه کی نه ږدم ستا د پـل‌په لور
بیا می له سرکو شونډو داغـلی‌زړه
ځـــی په منډه منډه دمقتـل‌په لور
زه دیار دز لفـو منـت بـاریمـــــه
سر په لاس ورځم د زلفـو ول په لور
خیر که یی تقد یر راسره نـه‌منـــی
زه هم شاته نه ځم دازل پـــه‌لـور

د تیاری په زړه کی رنها

یادو نه ستا دورځو شپو په‌زړه‌کـــــی
زما خیا لو نه دکلو پـــه زړه‌کـــــی
شبنم په گل باندی و یده پاته‌شـــــو
او ښکی زما دانگو په زړ ه‌کـــــی

مامستقبل ته لاره پـــــر انیستـــله
ماضی شوه ور که دو ختو پـه‌زړه‌کـی
زما سـدی دلیو نـــــی‌مینی ده
داسی هم شته دلیو نو په زړه‌کـــی
په‌سو ځید و چی بد نظـــــرد و ی
خوارړه لوګی دسپیلنو په زړ ه‌کـــی
د شونډو پا نو ته می نـــه‌راوځـــی
پاته ګیلی شوی دسلګو پـــه‌زړه کـی

دلوزونو ژړا

دهجر سلگی

ستوری دآسمان می په سلگـوسلگی وهی
لو زو نه دجانان مـی پهسلگوسلگـــی وهی



دمینی گریوان وړمه لیو نـوغوندی ترڅو
در زو نه دگر یوان می پەسلگوسلگـــی وهی
داوښکو بدر گو ته به دمینـیپه لار تلمـــه
یادو نه دآرمان می په سلگـوسلـگی وهـی
دزلفو هر قدم ته به یی سر پەسجده ویســم
تا لو نه دایمان می پەسلگـوسلگـی وهـی
لمبی دڅوا نی مینی به سـړی نشی زمـــا
غمونه د هجران می په سلگـوسلگـــی وهی

د هیلو
هسک

راتګ‌د پسرلی ته سره ګلونه‌په نڅا شول
نڅا سره د ګلو ، سره بنو نه‌په نڅا شول
له سرو ګلو نو جوړ بیا امیلونه‌شول دمینی
په‌غاړو دپیغلو ټو امیلو نه په‌نڅا شول

زاهد له میخا نی نه‌په ژړا ژړا بهر شـــــو
جامونو چی نخا کړل‌اوس خمونه‌په نخـا شول
دوزخ کی‌شغلی مړی‌شوی دجنت‌په دروازه کی
په‌زړه ددوز خیانو کی شورونه‌په‌نخـا شـول
راو خته آسمان ته‌په‌پردوپـټ‌هغه لمر مـو
رنایی‌چی خپره شوه ویده زړونه په نخا شول
دګر د جنګیالیو ته پیغـــا م‌دبـری لاړ و
په‌ویاړ دشهید انوبیر غو نه په‌نخـــا شو ل
یوبل شانی اثر دی دپسر لی‌خوږوو ږ مو کـی
داځکه نوپه زړو کی امیدو نه‌په نخـا شـول
په تورو تروږ میو سباوون‌څپی‌خوری کـــړی
دتوری شپی‌په‌نس کی څراغونه‌په نخا شـول

کـــاتـــه

تکل دخوږی مینی چی دیار په‌لـــوری و شـــــی
دستر گو په بنوبه چی قدم نه‌ږدی نو څـــه ږ دی
ابد که رنگینـــه غواړی یادگارددغـــی پیښـــــی
په‌وینو دلیمو به چی رقم نـږدی نو څـــه ږ دی

د خیال په لوپټه یی د شفـــق‌هوس لو کـی شـی
نظر د یار د سترګو که سلـم نه ږدی نو څه ږدی
چی سر نه ځـی پخپله دخوږی‌مـیـنی بـدل کـــی
تندی‌کی به نو خال چی دماتم نه‌ږدی نو څـه ږدی
اثر دیار دسترګو ،چی دزړه ه‌وینو کی ور ک شی
په‌زخم در قیب باندی مرهـم نه‌ږدی نـوڅه ږدی
نظر نشی ستو مانه دکاږه نظرتصـــو یـــر کـی
اثربه‌یی په کور داوښکو نم نـه‌ږدی نو څـه ږ دی
انځور چی سحر گه کی مخ دیاردګل‌په ځـای شـی
شین خال به یی‌په‌زړه لکه‌شبنم نه ږدی نو څه ږ دی
نظره ! لیونی نشی د یار کورته چـــی ر ســـی
داد و مره تیند کو نه دی چی‌غم نه‌ږدی‌نوڅـه‌ږدی

دژور بهارونه
دخیبر گلونه

ویښ‌شه یه خیبره چی گلو نه‌دی ویښ‌شویدی
لمر په تاکلی ځلی ، مشالونه‌دی ویښ شو یدی
څنگه به یر غل دیر غلگرو دلته‌مـات نـه شـی
ټولی په میړا نه ځلمی، نجونه‌دی ویښ شو یدی

لاخو نو خیبره تاتری دی حماسی به شی
ستا دننگ لمنو کی قو مو نه‌دی ویښ شویدی
لابه توده څړ یکه شی‌خیبـــره داغیار په کور
نن دمیړ نیو غیر تو نـه دی‌ویښ شو یدی
ماته حماسی ستا دنا وونو را په یادی دی
بیاو یدی کیسی اوتیر نکلونه‌دی ویښ شو یدی
پاخیږه خیبره چی لمر غیږه‌در پرانستی ده
بزم دی ویښ شوی او رزمونه دی ویښ شویدی
جوړ شول سنگر و نه ستا دغرونو په سرو نو کښی
خلك دی لاخه چی دنگ دنگ‌غرونه دی ویښ شویدی
هلته دخیبر دشمله ورو شملـی‌لوړی شوی
دغلته د « ټور » بها رونه دی‌ویښ شوی

داغزل زما دستر گو او زماداوښکو هغه آسره‌ده‌چی په‌افغانستان کی آئیست (دسعادت مرغه) هغه‌او کراینی ځلمی شا غر شهیـــد ته او دآئیست‌په‌نوم دشوروی‌تولوهغو نازو لو کمسمو لو ته چـــی په خلا صو او له خند اه کوسترگودخپلو میندو له غیږ و څخه افغا- نستان ته‌راغلی او بیا پتهی سترگی دمیند غیږ وته ورو ړل شوی اهدأ شویدی چی بی له‌شکـه دکمسمول ژوند ، کار او مبـارزه زمو نږ دافغا نی ځوا نانو دکاراو مبارزی سر مشق دی .

د آئیست یاد

لاری په ستر گو بو یـو مستاپه کو څه به در ځـــم
اغزی له مخی ته لوم ستاپـه‌کوخه به درځم

چیر ته چی ځم ستا دزړ ګـی‌دآرما نو نو په یاد
او ښکی له ستر ګو تو یوم ستاپه کوڅه به درځم
نظر می ناڅی په‌کوڅو کی‌چی‌زه تالټو م
دا کانی بوټی ښکلوم ستا په کوڅو به درځم
پری لګیدلی به د شنو ستـرګو نظر وی د ستـا
تنده په‌اوښکوماتوم ستاپه‌کوڅه‌به درځم
د لاری تیږی په ژړامی‌له‌ژړا نه و چوی
ژړا په شو نډ ولو بوم ستا په‌کوڅه به در ځم

په‌سرو گو لو ستا دټټر خنـدادښمن اوبه که
زه یی په زړه کی نازوم ستـاپه کوڅه به درځم
دو ینو داور ودی او بـــــه‌کړی د « زیتو نو » و نی
ځان می له‌تانه ځاروم ستا په‌کو څه به درځم
ما د اورښت دور یځو شاته ستانظر و لیده
د وخت په زړه یی‌وروم ستاپه کوڅه به در ځم
په شمالی نسیم چی اخلـــــی‌تازه گی مو ز ړو نه
زړه په لمنه کی دروړم ستاپه کوڅه به درځم
ستا ددر گاه دسجدی هیلـــی‌می تو به کړه هیره
په گنا هو ځان لمبوم ستا پـه‌کو څه به در ځم

زما ولسه

زما ولسه د غـمـو ولسه
یه د ترخو او د خوږو ولسه
راځی رنا غیږه در پرانستله
یه را وتلی له تیارو اولسه
د ۱۳۵۸ کال د جدی ٦ مه

د شونډو کوثر

څومره چې خندا کې دې اګروینم
هو مره دې په شونډو کـې کوثر وینم

شان دی هم دمینی را اوچت‌ښکاری
ستا چې دپامیر سره خیبـــروینم
ته راته انځور شی په زړ ګی‌باندی
زه چې کله لمر هرمازد یکـروینم
ته که پلوشه شی زما مینی ته
خیر که ددنیا غم پخپل سروینم
بس دیارانی خبرهم د غه‌ده
ستاچی د خبر په سر خبر و ینم

دمازیګر پرو زرونو

غم دآشنا هر مازیګر را خـــی
په ما ژړا هر ماز یګر راخـــی

ګو در دمینی به پیدا ځنګه شی
عشقه سودا هر ماز یګر رائځی
پری چی ځان ستړی په ژړاخوکمه
کله خندا هر مازیګر رائځی ؟
لاس می ګریوان ته‌په ښیرا نه‌ور ځی
وخت ددعا هر مازیګر را ځی
دابه وی یاد دچا دسرو منګلو
چی می پروا هر ماز یګر رائځی
ګو دره پوه شه چی پوه شو ی نه‌یی
دلته فردا هر مازیګر را ځی

داو ښکو جر گه

ګوره ، اننګو ته می اوښکی‌می جرګه در ځی
طمع دخو لګو ته دی او ښکی‌می جر گه در ځی

ماچی دژوند ون زیری ستا نه په کتو واخیست
قهر دکتو ته دی او ښکـــــی‌می جر گه در ځی
شونډی اور نی دی ستاو سوی‌پری زماشو نډی
شونډو اور نو ته دی اوښکـی‌می جر گه در ځی
ستا په پښتنی غرور مینه اراده‌شو له
گوره چی پښتو ته دی اوښکی‌می جر گه درځـی
ستا د پلو شوپه مخ هیلـــــی‌دوصال ځلی
نن چی پلو شو ته دی اوښکی‌می جرګه درځی

د پنجشنبی ورځ دلور ۱۱ مـه
کابل دځوا نانو ښار گو تی

غـزل

ستا له ستونی نه وعدی وختی
زما دخو لی نه څو گیلی وختی

دچا دمینی می اثرو نه لیـد
بس‌شوم‌لوگی رانه ایری‌وختی
زما تقصیر دحو صیلو به وی‌دا
چی له جوماته میکدی و ختـی
ورشه زاهد گوره په سپینـــه‌پگړی
چی یی له خو لی نه څـــــه‌پیښی وختی
دیاری رنگ می چـــی بدل‌ولید ه
زماله ستر گو ترا نی وختـی
کابل دځوا نانو ښار گوتـــی

ارمان سوی

وسوی په آرمان کی دآرمان‌له‌کو خـــی وو تـــی
لاره دپر دو کی دجا نـان له‌کو خـــی وو تـــی
تاوی چی دبخت په اننگو می‌شو نډی بنخـی دی
څو مره بی خبره دایمان له‌کوخی وو تـــــی

تاته په دو کو ستر گو کـــی او ښکی مرغلری شوی
گوره په دو کو چی درضوا ن له کو څی وو تـــی
نه شوه له دردو نو سره ستادبی دردی جـــو ړ ه
در ددبی دردی کی ددرمـان له کو څی وو تی
څنگه هو سو نو لیو نـــــی دغرور غو نو کړی
هسی لیو نتوب کی دآرمـان له کو څی وو تی
لار د پر ښتو کی داغز و تخـم دی و شیند ه
شنی نشوی اغزی ته دانسـان له کو څـی وو تـی
راشه ته اوس گوره چی سپرلی پکی غوټی سپـــړی
ته چی هغه بن نه د خزان له کو څـــی وو تـــی

خیالی خندا

پری چې پر هر و نـــو سره‌و خاندم
دغوا مید و نو سره و خاندم

لابه دی د خیال وعدی غمجنی‌وی
ستا چی وصا لو نو سره وخـاندم
څله تخنوی می په خیالو نوکی
پری چی دغمو نو سره وخاندم
ستاپه اور نو وعد و لو گـــی‌شو مه
نور به دبا دو نو سره وخاندم
څو به دی دشو نه ود شرا ب‌په یاد
دی تشو جا مو نو سره وخاندم

مینه ـــ هوس

ستا په اننگو کی دښکلا غمـی‌مستی کوی
څو مره می په زړه کی ددوعاغمی مستی کوی

سوزم دخو ږی مینی دز غم داورپه څنیو کی
زما په پرهرو چی د خندا غمی مستی کوی
ماته‌په تیاره‌زړه کی‌دی ځـا ی دمینی وښیه
گوره زما زړه کی دښا غمـــی مستی کوی
کله چی له شو نډ ونـه مـی سوال‌دبوسی‌ووځی
ستا په سر کوشو نډ و دنڅاغمی مستی کوی
خیر که یارا نه دی در نـــه هیره کړه زما مینه
ستا په غلچکوکی د پخوا غمی مستی کوی .

دوعدو په اننگو کی

د سترګو په کمځو کله راځه کله درځم
په داغ د اننګو کله راځـــه کله درځم

دحسن پلو شو کی دمجنون زړه په تسل
بی نیازه له وعدو کله راځه کله درځم
د مینی په موسم کی با نه خوب نشی درو لی
په زړو نو کی دشپو کلـــــه راځه کله درځم
چی زلفی دی پر یشا نی وی لا هم خوری ور ی
همداسی په و ږ مو کله راځه کله درځم

اند یښمن پسر لی

څنګه پسر لی یی چې ګلـــلان در ســـره نه خا نـــــدی
خپله په خندا یی خوز مان درســـره نه خانـــــد ی
هسی به د چا زړه در نه شیـن وی په غمو نـــو کـــی
هغو مره چې ته خا نـــدی باغوان در سره نه خـــا ند ی

ستا په زر غو نه فضا کـــی یـــو عالـــم غمو نه دی
ځکه د ار غونه او دامـــان در ســـره نه خـــا نـدی
ته‌به وایی ما خو په دهقـان‌زیـــری را پ یـــــدی
ځه زیری دی واخله چی دهقان درسره نه خانـــــدی
زه دی له گلا نو دانسان دوینـــو بـــــوی اور م
ستا شونـدی دی خـلا صـی‌خوانسان درسره نه خانـد ی
ته دژ می یار شوی پسر لیـه‌سینگار مـــه کـــو ه
وریځی د ی خوری کړی چی‌خواران درسره نه خا نـدی

د ۱۳۵۷ کال دثور اوله نیټه

داشعر زما ډیر نږ دی‌ملګری‌او د نوی ځلمیتوب د دوری خوږ یار او دوست حلیم جان ته اهداشویدی . یعنی هغه چاته چې د هغه شهادت نه یوازی د هغه‌دکور نی بلکه دډ یرو کسانو او انډ یوا لا نو اوپه انډ یوالا نوکی بیا ما طاهر، قسیم ، قد یر، غفور، او شیراکبر ته یی ډیر غم‌پریښود او زمونږ د خا طرو ژوند پری نیمګړ ی شو .

چی یاد یی هیڅکله زما لـه زړه څخه نه وځی .

او اوس چی داشعر زما په مجموعه کی چا پیږی ضروری ګنم چی د شیر اکبر څخه یو ځل بیا یادونه وکړم چی هغه هم وروسته د انقلاب ضد له خوا شهید شو.

ویر

ننګر هاره ، ننګر هاره !
په‌زمونږه دنیکو نو ؛
دپلرو نو دنیکو نو ؛

یه دسرو گلو نه بنه !
یه له سرو وینو نه جوړه
تا نه زر وار در واری شم
ته جوړ شوی له زوړ ، شوریی
ته تاتوبی د شنه زور یی
ته په سرو گلو سمسور یی
که لاله دی زړه کی نشته
بی له هغی ته سره اور یی
ننگرهاره ، ننگرهاره !
راته وایه ولی چوپ یـــی ؟
زه پوهیږم چی می ورو نه .
آه ، تنگی تنگی گلونه
دجلا د له تیغه تیر شول
او د مرگ کندی ته لاړل
ستا ښکلتیا او سمسورتیا ته
پسر لی کی خزا ن را غـــی
ستا باغو کی ځوانان ښخشول

ستا فار مو نو کی وطنه .
ستا دهر نارنج په بیـخ کـی
ستا دهر ز یتون په څنگ کـی
کار وانو نه ستا دهیلو
سره ښخ دی لا تراوسه
ننگر هاره ، ننگر هاره !
دز یتو نو شنی لمنی
دنار نجو سپین گلو نه
شاهدان دحاد ثـو دی

ننگر هاره ، لاتر اوسه !
شنی لمنی دز یتو نو ،
له سرو وینو نه لاسری دی
اوپه شنو جامو کی پټ دی
دنار نجو سپین گلو نه .
د تنکی ځلمو په وینو
هسی ژاړی لاتر اوسه
چی نرگس په سحرگاه کی
دخپل کم عمر له ویره
پهشهلا ستر گو ژړ یږی .
ننگرهاره ، ننگرهار !
ما خوو لید چی په تا کـــی
حماسی دژوند تالا شوی

که هستی دی هم تالا شوه
خو ستا مړه نه‌شول رزمو نـــه
ستا گلو نه خوژ و ندی دی
داستا غرو نه خو ژوندی دی
ته‌ژوندی اوسی تر پایه

* * *

اوس نو گوره ننگر هاره
چی جلا دنشته په تا کی
نورنو ویره دمرگ ژو بلی
ته‌هم نه وینی په سترگو
راشه ویښ‌شه ننگر هاره
او داغرو نه دی راویـــښ‌کړه
نور دی خلق ځان ته بو یـــه
دا سیندونه دی راویښ کړه

په شمشا د دی چیغه وکړه
ویده زړو نه دی راویښ کړه
* * *
ننګرهاره ، ننګرهاره !
نور د تیری مرګ او ژوبلی
تسلا دی شه په برخه
له پخوا نه ، شی زرغونه
اوښکلا دی شه په برخه
ننګرهار ، ننګرهار !
راشه وهڅوه خلک
امیدونه یی ژوندی کړه
نور نو شور د محفلو شه
مشالونه دی ژوندی کړه

ننګرهار ـ
د جلال آباد ښار

لمر

دسبا سپین لاو سو نه ،
یه تورو تورو اتکړو کی د شپی
هسی لا ښکیل پاتی وو.

چی لمر راوځلیده
او اتکړی اوبه شوی
دتوری شپی غو ته هـــــم پرانیستل شوه !

بغلان
۸ جدی ۱۳۶۲

سنگر

سنگر
۱

لا سنگر دی
لا سنگر دی
لا سنگر دی د برهونو
لا سنگر دی د عزمونو
لا سنگر دی د ننگونو
لا سنگر دی د بریو

د بریو ،
او بریاوو
لا سنگر دی نه ړلیکی
ټینګ ولاړ دی نه غورځیږی
لا ژوندی ده ،
آزانګهی
د بریو د بریاوو .
لا سنگر دی ،
لا محبوب دی
ها محبوب ، محبوب (سنگر) مو .

۲

سنگر مړ ندی ژوندی دی

۳

هغه غر دی
ډیر لوړ غر دی
ټینګ ولاړ دی
نه ړیږی
لکه غر هاسی سنگر دی

٤

هغه سین دی

ځی روان دی

نه تمیږی

نه ودریږی

نه شا کیږی

لا ګامونه یی هدف ته

په میړانه پورته کیږی.

٥

هغه اور دی او بلیږی

٦

هغه لمر دی

هغه نور دی

هغه زړونه رڼا کړی

هغه لمر دی او ځلیږی

لا ځلیږی تر آبده

د ظلمت د خونې لور ته

ور ختلی مخ په ور دی

څو چه هغه رڼا نکړی

لا هماغسی سنگر دی

۷

هغه ژوند دی

هغه نه مری ، نه مړ کیږی

مرګ پوهیږی چی !

دی نه مری

ځکه نه ورځی په مخه

تری ډاریږی او پوهیږی

چی « سنگر » د ژوند سنگردی

ځکه نه مری ، نه مړ کیږی

۸

هغه شور دی ،

لا په شور دی

لا په شور سره ژوندون کړی

۹

هغه مینه دی او

شعر دی

هغه زوړ دی

هغه غړ دی

د نړی خوارو بچو ته

رسی رسی شپی او ورځی

ولسو او پرګنو ته

دلمرونو کور

ماد تورتم شپو کی خو بو نـه کـــول
د تورتمونو په څپو کی تـاویدمه به زه

د چا له غمه ؟

د وطن خوارو بچو له غمه

د سرو اورونو په لمبو کی سو ځید مه به زه

دسرو لمبو دسرو او رو نو سره

له درند و پیټو دغمو نو سره

دغور ځید نو

پاځیدنو

زرو یلد نو سره

د تور تمونو کړ لیچو نه می وهل په منډو

یوازی نه وم

پلدی اور ،

اوکړ اونو کی زه

زما وطن

د خوار وطن

خوار ولسونه

دا پیاوړی زمر یان . . .

زماتر څنګ په منډوشوی‌ووتول

«چی‌تورتمونوکی مولاروایسته»

او دلمر ونو کور ته

ورسیدو .

داو ښکو
پیغور

چې پر مخ یې شو ښکـا ره‌انځور د اوښکو
د زړګی په سر می ولید زورد اوښکو
د ښکلا په اننګو یې حیـــاراغله
راته پا ته شوه صیا پیـغـورد اوښکو

شپو نکیه

شپو نیکه وخاو نده او
شه وخانده
خانده ور شو کی له رمو سره دی
په خندا شین شه له خیالو سره دی
چی پسر لی کی یه شپو نکیه د خندا ورځی وی

* * *

نه نه شپونکیه !

در مو شپو نکیه !

دلوړو غرو نو ، شاړو دښتو اومیرو

شپو نکیه !

ستا له خندا سره خو جوړه نده.

ځکه له آره دی زده نده‌خندا

ته خو په ژوند کی خند یدلی‌نه یی .

دخو بنی سیند کی لمبیدلی نه‌یی .

زما شپو نکیه !

در مو شپو نکیه !

ددنگو غرو نو دلمنو دوښـــوشپونکیه !

زما شپونکیه !

د شپیلی شپونکیه .

یه د شپیلی له پاکی مینـی‌لیو نی شپو نکیه

واخله شپیلی دی

ورنږ دی کړه پاکو شو نړو ته‌دی

ویی غږوه.

په مینه مینه سره و غږ و ه ،
دی شین سهار کی په ز ر ینه‌شپیلی
خپل در مو او سرو گلو نونغمی
له خوږه وځه
په کمره او
دگلا نو مینځ کی
دخپلی پاکی او سپځلـــــی‌او لور ینی ادی
دپاکو هیلو ، آرما نو نـو ، کړ او نواو
رنځو نو نغمی .

سوی ارمان

پریږده په نویو ارمانو کـی سوځیدلی ښه یم
د هجر شپو کی ستا له غمـه زوریدلی ښه یم
لکه چی گل شی د خزان پـه لاس کی پانه پانه
زه پانه پانه ستا په لاس کی رژیدلی ښه یم

کابل د ځوانانو شهرک

د ځوانانو د نړیوال فستیوال په مناسبت

مسکو ته

مسکو واخله سلا مو نه زمو نږ
ستا دګلشن غیږ کی ګلو نه درځـــی
یه دسپیڅلو هیلو کور مسکوه
تاته سپیڅلی امیدونه درځـی

مسکوه مات که دسکوت غاښونـه
چی قافلی درکی دمینی خو خُـی
دلیو نی مینی دشور په هیله
خُوانو رگو کی تو دی وینی‌خوځی

مسکوه ! تاکی دگلونو تو پان
گوره‌چی ورځ‌په‌ورځ‌شورونه‌کوی
مسکوه ستا دابر یالی سند ری
په نړ یوالو کی زوړ و نه‌کوی

څه ولولی دی‌چه په تاکی ندی؟
یه داکتو بر دگلو نو شملـــی !
تا نه د خُوانو هـــیلو زوړ آور م
یه د اکتوبر د رزمونو شملی !

یوځل دی بیا زړونوکی‌لارپیداکـړه
چی شوی دتو لو هیلو کـورمسکوه
ولی نـــړی به په تاو نـــه‌نـازی
سړ ووهلو تـه شـــو ی ا و رمسکـوه

ویاړی په تا باندی بی پایه، خلک
ته یی دسولی دبریوالهـــام ،
ته داکتو بر دګلو نو ځا نګـــو
ته یی دمینی دخو ښیو پیغـــام:

مسکوه تاکی دی‌جشنو نه‌وی‌تل
داکتو بر دسرو ګلو نو ســره
وږمی دسولی دی خور شی‌نورم
زمونږ د(ثور) مشالونو سر ه .

شعره

شعره ! کوم درد دی دوا کړه زما زړه ته
په ژوندون کی زه حیران یم ستا زړه ته
ته نو ولی په غمونو زمـــا خاندی
چی که نه شولی ربښتینی دوا زړه ته

د معنی هوډ

ستر گی می پتهی شوی چی:
ونه وینم
ژبه می پری شو له چی :
ونه وایم .

خوما د زړه په سترګولیده چی ناڅی
لامسیږی
دژوندون سپوږ می دوریځومینځ کی
څومره چی ومسیدم
او ورته وهڅیدم
هو مره قلم می کړه تیره ژبه
اوو یی ویل :

دخندا شیبه
د ژړا تصویر

دخندا هره شیبه دی ،
زما دسرو ستر گو پەوړاندی

نری اوښکی کړی انځوری

* * *

ماته مه خانده چې ژاړم

دغور ۱۶ مه

دلیکوا لو د اتحاد یې مقر

د ثور انقلاب اتمی کالیزی ته :

درزمونو
مشال

وګوره چې خلک دلمرو نو دکعبې په لور ی لار باسی
یو شول او لسو نه
ستا دعز م
د ځلاندو پلو شو په لـو ر

* * *

ته یه انقلا به زمو نږ دخلکـــودکلو دآرما نو لمره !
ته یه انقلا به !
زمو نږ دگو ند سترو رزمو
دبر یا لو هڅو ،
ځلا نده لمر.
گوره چی د گوند د ارما نـــو
او د رز مو نو په بی پایه‌منزلونو کی
گوره چی دمرگ او ژوند پـــه‌لار کی
د بریو توفانونو کی
پاته نشوی ، ورک نشوی
ډیوه شوی او لسو نو ته
هم خوارو قومونو ته
لاره دبر یو دی روښا نه کړه

* * *

گوره چی په سیمه کی
ته دشپی دپای زړه کی
ستوری دسهار شوی
سباوون شو لی

نښه د وروری شو ی
دوحدت او پیّو ستون شو لـی

* * *

تاکی انقلا به !
ددښمن مات سنګرو نه شول
تاکی انقلا به دستم اتکړی‌ماتی‌شوی
ویلی شوی ، اوبه شو لی اوورکی شوی
اوس می خلک ځکه
ستا هدف او آرما نو نو ته
روزی خپلو زړو کـــی
دیووالی او الفت هیلی
لا روزی په زړو کی
ستا په ویاړ دعقید ت‌هیلـــی

* * *

هاسی چی اکتو بر دنـــــړی انقلا بو نو ته
تو لو بر یالیو پاڅو نو نو ته
عز م ته ، ننګو نو ته ،شورونو ته
لاره د رزمو نو یی روښا نـــه کړه .
ته به هم
هـــاد ی شی
زمونږ د سیمی اولسونو ته
ور کړه زیړی ورکړه
د نړی انقلابونو ته
تا پوری تړلی زمونږ دخلکوامیدونه‌دی
بلی هم په تا مو د رزمونو مثالونـه‌دی .
یه زمونږ د خلکو د کلو د آرمانـو لمره
یه زمونږ د ګوند سترو رزمو
د بریالو هڅو ،
ځلانده لمر .

انځور

آیا هغوی

چې په لو خی –

ګوډی کی –

ژوند تیروی.

دی سپینو څاڅکو ـ

د اوربښت ته ـ

مرغلری وایی ؟

دژوند پیغله

پرون دژوند ،
ناز که پیغله ،
په لوخی کوډی کی.

چې شنی لو خړی او لوګی به نځیدلی پکی.
خندا د و یر یی ناز وله
په پستو شو نړ و کی
اوشین آسمان
ور ته دور یځو
په ویر جنه رښا
دآسپیری
توری کو ډ لی
له سوریو ستر ککو نه وهل .
خونن ،
دهغو شنو لو خړو
په تیاره کو ګل کی
دژوند دپیغلی دسر کوشونړو
سوروالی په رنګ
دتوروز لفو په هرول کـــــی تو مبید لی ګلان
لاتو کیدلی
غوړید لی
وینم ،

او دژوندو ن
د نازولی
بنکلی پیغلی
ها خو شالی ستر گی ،
د شنه آسما ن
او د لمر و نو دکعبی خو نی ته
له خو شحالی نه سترککو نــه وهی .

دپکتیکادکتواز ولسوالی۱۳٦٤
د اسد میاشت.

انځور

زه د ژوند د حوا د لو پیمانه یم

ددردونو او غمونوافســـا نه یـم

زما درده دبی دردو ز ړو ته ورشـه

وا یه زه دماتو هیلـــو آشیانه‌یم

د خندا احساس په زړه

نن خودی زه یم

دلیدو په تمه،

سبا زما دپاکی مینی نښی

زما دقبر سره گلان به ستـــادو یر په بی امانه خندا

دهر یو څاڅکی داحساس پەزړه کی

دسروغو تییو خندا ونڅوی .

۱۳٦٤

کابل

د ځوانانو ښار گو تی

دشوروی اتحاد دکمو نیســـت
گوند د ۲۷ کنگری په ویاړ:

دلمر دپلو شو
په کور

بیاهم دلنین دآرمانو نو دیـادگار په کور
هلته دلمرو نو ،

دځلا ندو پلوشو ،
دسری رڼا زړه کی
بیاهم دنړی داو لسو نو دسرو هیلو
ـامیدو نو ـ
دمنلو ،
لویه خو نه کی
هلته چی د ظلم ا و ستـــم دښکلو په ځـای
وغوړ یدی
سری سری مو
دسرو هیلو
سور کی غوټی ـ گلو نه شو ل
هاغلته چی نشته نور
غلا مان او سر داران پکی
وټو کیده بل دبلشو یکـــودرز مو نو گل
وغوړ یده هلته ،
دزیار کښو او لسو
د امیدونو گل
وریی که نړی ته دتلپا تو پسر لوزیری
* * *

هغه نړ یوال مو
دجنګو نو له رنځو نو چـــــی
تو یی کړی دتن غوښی.
پورته به شی
جګ به شی
او خوښ به شی
لاس به دوروری ورکړی، یو ، بل سره
اویو به شی
ژوند به کړی دتو لو بلشو یکوپه سپر لیو کی
لابه سره یوشی
دزیار کښو او لسو نو په خـوښیو کی

* * *

تل‌دی وی
ژوندی دی وی
داد بلشو یکو دسپر لی زیری
تل دی وی او
ټینګ دی وی
داد او لسو نو دبری ز یری

کابل ۱۹۸٦

دځوانانو شهر ک دحوت لسمه

داوښکو ویر

ستالمنی نه به تور هسی مختور ځی
د یتیم د ستر گو اوښکی چی په زور ځی
که زه پوه وای نومی نه ژړل په عشق کی
چی زما داوښکو و یر دبل په کور ځی

دبهار دلو پتی نه

زه د خزان دبن د سروګلونوو یرته ناست وم
ته د بهار د لوپتی له پیښکی و تو کیدی .
دبلخ ولایت ،
دبلخ ولسوا لی .

دایمان کور

دا د خوارو پرګنو د ایما ن کـــو ر د ی
تل یی سیوری په‌بی‌وزلو بـا ندی خور د ی
چـــی سپیـړ ی د سیلیـــو و ی خو ړ لـی
دا د هـــغـو د سپیـــره نغر ی ا ور دی

د مینی پربنته

ز ما دژوند دکړاو نو او دردونو آشنا
زما د خوښیو خوشا لیو اوغمونو آشنا

زما له غمونو آو دردونو زور یدلی پیغلی
زما دغور ځنګ دمیړ نودسنګرونو آشنا
زه در نه ځم رنا په لاس دتوری‌شپی په منځ کی
وړاندی لاځم زړه یی ځیـــرمه په منګو لو باندی
او د ګوګل په هر یو ګـــام یی ځلا ند ستوری ځلو مه ځمه
نو زما د خوږی مینی خوږی‌محبوبی !
یه له خوږونه‌هم‌خوږی محبوبی
زه در نه ځم او دهدف په‌لوری‌منډی وهم
په رنا یی کی توروشپو تـــه‌سنګرو نه نیسم
بیا دوطن په بر یالیو مرچلونوباندی
ستا په پړ و نی می قسـم چـــی په میړا نه خیژم
زما غیرتی اوپښتنی مینی !
څوچی دتوری شپی غو ښتونکی
اونما نځونکی می پوه کـــړی‌نه وی
څو می چی دلته څرا غو نه‌لا بل کړی نه وی

او اهر یمن می له دی خـــاوری تښتو لی نه وی
زه دمیړا نی په مور چـــــل به لاهماسی پایم
اوپه میړا نه به سنگر سا تـم
زبه همالته ددښمن پسی سری ډزی کوم
تاته دهری ډزی کړ یکی نـــه شعرو نه لیکم
او دسنگر دلیک په نوم به یی درو لیږ مه
ته دی پرونی په سر ساته
زما دمینی پښتنی پیغلی
زما دسنگر لیکو نه واخله
سره شعرو نه لو له
راته په شعر کی دلیکو نوځوابونه لیکه
احساس د مینی دی د وینو په شعرو کی ځای کړه
بیانو دسو لی پر بښتی په لاس راو یی لیږه .

او خپله کینه انتظارباسه
زه به سر لوړی له بریاوو سره
د حقیقت او د ربښتیاوو سر ه
سنگر به وکټم اورابه شمـه .
تانه به جوړه کړم دمینی دآرمان‌ناوی
زه به شم ستا د پاکی مینی دارمان د منزل .

۱۳۵۹ کال
دپوهنتون مرکزی لیلیه .

دلیمو فرش

ما لاستا د ناستی ځای کی
لیمه نه ووغوړ ولی
***

چی آشنا ،
دبیر ته تلودی
راته غوږ کی انگازی شوی .

شبر غان
دیکه باغ کلی .

دخزان مرګ

ما پسر لیو کی خزان ولیده
او د خزان د دروازی درشل ته کینا ستمه

هو مره می وژړل په زوره زوره
چی می داوښکو څاڅکـــــوڅا څکو نه و لی جو ړ ی شو ی
ـو بهیدی
او د خزان د بڼ ګلونه پری خړوب خړوب شول
زما لا اوښکی و دریدلی نه وی
چی د خزان مرغی می ولید ه په لوبو لوبو
چی زما داوښکو په واله
خپلی بڼکی او وزرونه وینځی
بیا می لا اوښکی وچی کړ ی نه وی
چی د خزان د ونی ټولی ها بر بنډی څانګی
هغه مړ ژوانده او سا کښو نکی بو ټی
زما د اوښکو ،
د رڼو اوږو په خوندپوه شو ل

مرغی می و لید ډچی بلـــه ښکاری
بله مرغی ده ډیره ښکلی
او سپیڅلی مرغی ،
هره خوا الوزی خونه غږیږی ،
ځکه نیولی په مښوکو دزیتونویوه شنه څانګه وه
څانګی می ولیدی د ونوچـــی شنی شویدی اوپانې لری.
او دسپرلی ښکلووږموته هوسونه کوی
هغه مړ ژوانده بوټی
نورنو مړ ژوانده نه وه
پری ها سپری دښتی ز رغونی شولی
خزان می ولیده ژړل په کوکو،
سپرلی می ولید چی مسکـــی شوراته
اوس یی لاهم خوله ، له خندا ډکه ده
داسی به خاندی ترابده پوری

کابل د ځوانانو شهرک

دملیتونو دوستی

ډیره مینه شته په چیک او پـه سلواک کی
یو یی فکر یو یی زړه یو یی هدف دی
دا سی ښکاری پرښتی دی بی له شکه
د لته مینه ده ، ا لفت د ی او شرف دی
۱۹۸۱
براتسلاوا
دځوانو ژورنالیستانو دنړیوال کنفرانس تالار .

دافغان ـ شوروی ددوستـی په مناسبت .

شوروی انسان ته

ماخو ستا میړانه په کیسو کی اوریدلی وه
ستا د احماسی می کتابو نوکی لوستلی دی
ډیرو ستا دزړه له سپیڅلتیانه هـــم ویلی وه

اوس به دی میړانه زه پخپلوستروګو وګورم
بیا به می او لادته کړم کیسه چې ما لیدلی وه
ته یه دلنین دستر هیواد د اتلانو ځوی !
ته د شوروی دسترو خلکـــوبا تورانو ځوی !
نن به خپل وطن کی زه شاهد ستا د میړانی یم !
نن به می دښمن سره زه ستـــادتوری شرنګ آورم
تا پخپل وطن کی اتکړی دظلم ماتی کړی
تا پخپل وطن کی د جنـــت ګلونه وکړل
تا کړی دړی وړی دستم او دظلمت ما نې
تا پخپل وطن کی د لمرو نومانې پیل کړلی
تا پخپل وطن کی اولسو نـــه سره یو ځا ی کړل
تا پخپل وطن کی د کارګر ودخټک په زور
تا پخپل وطن کی دبزګرو په لرو بانـــد ی
وینی کړلی تویی ستمګـــرو جابرانو نـــه
وادی خیسته ځواک د سرمایی له «اتلا نو نه »

ځکه نن خوشحاله ستا په رزم اولسونه دی
وینم چې په هره خوا د سولې بیرغونه دی
تاکړه لاره‌خلاصه‌او رزمو نـــه‌دی ډیوی شولی
ویښ دی اولسونه کړل اومینی‌دی خوږی شولی
ما خو دبری نښی لیدلی پـه‌گامونو ستا
ما خو ستا درزم او میړانـــی‌اتکل کړیدی
ته ډیوه دسولې شوی نړی به‌په تابښکلی شی
تا چې په نړی کی د رزمو نودنیا ښکلـی کړه

رزم دی حامی شو د نړی خوار و اولسو نو تـه
ته خپله حامی شوی دزیارکښ اولس رزمونو ته
ته‌دی‌جاویدان یی ستارزمو نه دی ژوندی اوسی
داسی مخ په وړاندی سنگرونه‌دی خوندی اوسی
ته سختو شیبوکی‌می د خلکـو پشتیبان شولی
لاس دی دو روری زمونږه‌خلکوته راوږد کړ
وخت د مرګ او ژوند کـی‌زمونږ مرستی ته دی‌ودانګل
تاکړ سره ټینګ مویو ځل بیاد دی دوستی مزی
خلاص دی کړ وطن زمونږ له‌ظلم او استبداد څخه
ودی ژغوره خلک راته له‌مرګ‌او له شداد څخه
ویاړی زما خلک ستاپه‌مرسته په دوستی باندی
ستا په ملګرتیا ګاوندیتوب اوورورولی باندی
رو ښدی په‌نړی کی د بر یو مشالو نـه شه
ډیر دی لاد رزم په نړی کی‌مثالونه شه

دا شعر د ا.خ.د.ک دشلمی کالیزی پـــه ویاړ د ا.د.ج د لیکوالو د اتحادیی د کا نکو رجایزه گټلی .

دسباوون الهام

د توری شپی غوټه دی خلاصه کړ لـــه
د سباوون زیری دی راوړ راوړ
دما توزړونو خاوندانو لره !
د سم ژوندون ز یری دی ر اوړ راوړ

* * *

تا په تیارو کی لمر راوځلاوه
د خلکو سترګی دی رڼا کړی ر نـا
د شپی کمپله دی‌ورټوله کړله
په ټولو خلکو دی سبا کـړی‌سبـا

* * *

سلام سلام (د حاد ثوبهیره!)
ستا په ژوندون کی خپـــل‌ژوندون وینم
ستا په هستی کی ، یه دلاری‌ډیوی :
ز ه د دی خوار اولس سمو ن‌وینم

* * *

ته می دژوند د سمسور بـــڼ نښه یی
ته می دلاری د آرمان ناوی
ته می دهوډ یوه ځلانـــــده‌څړیکه
ته می د ویاړ او د ایمان ناوی

ته می د ژوند یوه تلپاتې آشنا
ستا ملګر توب باندی بی پایه ویاړم
زما په ایمان او هوډ بـــاورولره
دغه با ور تا نه ترپایه غواړم

***

تا د تیارو خونی رڼا کړی آشنا
تا زموږه خلکو ته رڼا راوسته
دی وږی تږی خوار اولـــس لره مو
تا هم د نوی ژوند بقا راوسته

سر می دستاپه لارکی ځار وی آشنا
که غواړی سل ځل یی درځارکړمه
ستا د ویاړنی لاری ویاړ ز مادی
زه به‌د استالاره گلزار کړ مه.

* * *

گوره چی ځومره خلک ویاړی‌په تا
ته اوس د خلکو د ویاړ ونوتوغ یی
خلک می ستا لارکی په پت‌سره ځی
ته می دخلکو دبرمونو توغ‌یی

* * *

تا انقلاب ته نوی ساو باخښه
د نوی ژوند ډیوه دی بله‌کړله
د زندانو د روازی ماتی شولی
چی په سهردی شپه بدله کړله

* * *

یه زهونږ دخلکو دخوښیو لمره
ستا در زهونو سور آرمان‌ژوندی وی
تښتی تیاری ستا د ایما ن له‌رنا
په لو ړآرمان داستا ایمان‌ژوندی

۱۳۶۳ کال
د قوس ۱۵ مه

د وطن په
خاطر

بیا می څله تخنوی ته
د ننلند دجنت حوری .
تا جګړه نده لیدلی .
خو پوهیږم
بنکلی پیغلی .
چې ته سولی ته موسیږی

* * *

زه خو هم ،
د سولی ځوی یم
او زما ملګری هم دی
خو دستا دانګیو په دریا ب کی
ما چی هرڅو مره سوچ وکړ
دسپیرو شونډو د مچو .
یوه ګوښه می پیدانکړه

***

اوس زما د وطن کا نیـــی
اوس زما د وطن بوټی
اوس زما د وطن غرونه
هم سیندو نه دوطن می .
او زما دسنګرو نو
بی پروا خوارہ ملګری
د جګړی په ضد جنګیږی
زه به څنګه هوسیږم
چی ملګری د غورځنګ می

د ګولو سره کړی لوبی
او زه ستا په پسته غیږ کی
ستاپه سپینو ، اناری تیو و ویده شم .
ستا پستو شونډو له جامه
د مستیو شراب وڅکم ـ
په وطن می
او په خلکو ،
د مرمیود باران شیبی کـړم هیری

***

راشه لاس را کړه په مینه .
چی جګړه شی ورکه ورکه
په یو والی زما او ستا کی ،
شی نړی پاکه لمنه
د جنګو نو له دیوانو
شی نړی موسوله سوله
او نا بود د جنګ خانان شی

***

بیا به هله زه تا بنکل کړم
ستا په بنکلو اننگو به
د مچکو باران جوړ کړم
***
اوس دی نشم مچولی
گلالی پیغلی و اوره
زه پوهیږم چی تاکله
خپله غیږه کی خوله کړم
اوس دی بس ،
یو لاس نیوی شم
نور می مه تخنوه اینی !
***
بس چی ځی سلام می واخلـه
د افغان د خولی سلام دی
ورنه جوړ که سره گلونه
د وطن کلیو بانډو کی
بیا په مزو دوستی ته
ورنه جوړ که ا میلونه
د فنلند خلکـو ته یی ور که

چې په غاړو یې امیل کړې
او بیا وهځې دوستي ته

* * *

نور مې مه تخنوه اینې !
زه تانشم مچولې
زه د ستا د پستې غیږې
د تودې مستې دپاره
وطن نه یم رالیږلې

مسکو ۱۹۸۲

د اوکرائین هوټل

اینه :

فنلنډې پیغله ژورنالیسته چې په شوروي کې د ژورنالیستانو په نړیوال کنفرانس کې راســـره ملګرې وه .

نوم ورکو اتلانو ته

ستاسی هوډ او ستاسی وینه په نړی کی
تندرونه شول په ظلم د نازیا نـــو
افغانی ځلمی په تاسو درو دوایـــی
په نوم ورکو آلمانیانو ـ شورویانـــو .
۱۹۸۱
برلین

دنوم ورکو شهیدانو یاد گاری څلی سره .

په بلهه بیره کی د افغا ن ـ
شوروی شهید انو ته :

دلمر گلونه

دسپین لمر ،
د سپینو وړانگو ،
دځلا گلونه .
چی دویر جن خندا څپوکی‌سره‌وموسیدل ،

د پسرلی دشنی لمنی دتوپا ن‌په زړه کی ،
د پسرلی نیمزالکی شونډو تی‌رنگ وباخښه
او دعصیان د څوکلونو د ارمان‌ناوی ته ،
په سپینه غاړه کی
امیل شول
د ښکلا گلونه ،
چی ان دغرو نوشنی لمنی ،
له ښکلایی تازه گی ښودله ،
نیمز اله ، پیغله شوه
خو سره گلونه ،
چی د نیمزالی د ښکلا پـــه رڼا یی کی شو گیرو نه کو ل
د ویر قاصد وربانډی تو روز رونه و غوړول
په توره شپه کی ،
د خزان دسپیره کلی ددرشل‌لوری تی ورسول
هغه گلونه ،
آ ، سورکی گلونه
د «ارغوان» او د «لاله» دشنو ښو نو نښی
چی د شنیلی د ښکلی پیغلـــی

د خندا له‌رنو اوښکو امیدونه کیدل
قاصد د ویر سپیرولا سونو کی‌چی ومروړل دوی
او د خزان دخپو ځالی ته یی‌وغور ځول
خو سره گلونه
آ ، سورکی گلونه
د لمر د تود کلی په لار دسور کی هیلی غنچی
د «ارغوان» او د «لاله»دشنوبنو نښی
بیا شوی غوټی
مگرونه رژید ل.
دشنه اورونو ،
دخندا په څپو
د شنو باروتو
د لمبو ،
د هسکو چیغو له سپیره ستونی‌نـــه
تازه ، تازه شول
او را وټوکیدل
بیا د اورونو د لمبو په منځ کی
او د لوگی د شنو لوخړو دتیاره گوگل‌نه

دشین آسمان
دشنی لمنی خواته ،
د سپینکی لمر
د مسیدونکو شونډو
د تبسم او د موسکا دهر کلی‌په خاطر
دلمر ترکلی پوری ورسیدل
هلته د لمر دپاکی مینی‌دموسکاله جامه
دنوی ژوند او د خندا پیا لی یی پورته کړلی.
د نوی ژوند د ،
ملگرتیا په خاطر
په زوره زوره سره وخندیدل
د لمر دکلی سره گلونه یی هم‌وخندول .

کـا بل
د ځوانانو شهرک

دلمر د کلی په لور

ما خو دژوند دهوسو د پسرلی په موسم
ستا د نظر په غلچکو کی پوره لار ولیده
بیا د متینو گامو
داخیستو په خاطر

د رو ښ هدف په لوری.
راته دی‌هڅه‌راکړه ودی‌ویل :
گوره چی مخکی لاړشی
او شاته ونه گوری .
ته می هادی شوی د دی لاری‌په ماروزمه کوڅو
په کږ لیچو نو کی دی لا روایسته
ماته دی وښوده دلمر د ناوکیود رڼو سیمو رانیه کوروڼه
او ،
هلته د لمر د کلی خوا کی دگلونو په کرلو بو خت شو م
دیرهم لاړل لاس په لاس راسره‌یو ځای ستا دگوتی درڼی څو کی
د نښی په‌لور
اوس هم دلمر کلی کی اوسی‌او گلونه کری .

ته خو اوس هم
لکه ساقی چی سخته تنده دخمارو په شرابو مات کړی
ټولو شبکو روته چی لار کی‌تیند کونه وهی
په تکو سپینو ساغرو نو او جامـو نو کی لمرو نه ویشی.

د حوت اوله نیټه
۱۳٦٤ کال

د هدف په لور

که می لاره د رزمونو لا اوږدیږی
خو ز ما مضبوط گامونه‌لاغورځیږی
دغه هیله می دخلکو زړوکی خوری
چی زمن یی د منزل ورته رسیږی

انځور

دژمی زړه می په لاسو
څیری کړ ،
د پسرلی ورمی پیدا کړ ،

چې ورننوتم ،
هلته په ژمی د لاصبروپه‌ویاړ
دسورکی گل په میلمستیا ورگډشوم

۱۳۶۰

پسرلی

بیامی د هوس دوچوشونهو په‌پترو باندی
تاودتبی راغی
ماویل وسومه
ځکه می په زړه کی دتیار ودنیا خوره شوله
ته‌چی له‌باغوانه لری لـری‌شوی

پاته په بیدیا کی شوی .
اوس به نو په سرو وینو
سرو سترګو ژړا سره
چاوویل چی ته راځی
زه دی یه سپر لیه
له ګلانونه
پوه شه « د انسان دوینو بوی آورم»
مه راځه ترڅو چی دباغوا ن‌سره یو ځای نشی .
هلته چی یو ځای شوی ،
پسرلیه ! د باغوان سره
ستا به دلمنی سره ګلونه دهغه‌سپینو لاسونو د تنها کوپه اوبو باندی
وویښل شی ،
پاک به شی .
بیا به نوزموږ د اولسونـــــوپسرلی به شی
ستا به په وړمو سره

زمو نړه د سپیرو شونډو للمی پتری
او به به شی .
گل به شی وطن وطن
سور به وی چمن چمن
مینه وی دنیا دنیا
خو ند به دی وړمو کی وی
خولی به وی خندا خندا
هله به سپر لیه زمو نږدږونو ته ډیر ښه راځی

۱۳٥٦

دثور میاشت

آرمتیاژ ته ـ

ته تصویر د انقلاب یی ته انځوری یی درزمو نو
یوه ستره حماسه یی د هیـــواد د اولسونو
که ملیونه نسله تیر شی ته به ونـه مری ژوندی یی
ته یاد گار د بلشو یکو د رزمو نو او ننگو نو

۱۹۸۵

اگست

لنینگراد

د مینی شعر

مینی ! سلام

سلام په تاشه مینی

ستا په پاکی او

سپیځلتیا شه مینی
کاشکی چی مینی !
داد نیا مو ټو له ...
دپاکی مینی په اوبو کـــی اخښل شوی
چه وای
هرڅه دمینی په او بو کـــی وینځل شوی
چی وای
له کانړو بوټو نه نیو لی
تر اغز و یو پوری ...
له کورا وکلی نه نیو لـی
تر سړ یو پوری
جوړ وای له مینی
مینی
مینی ځنی.

شهید ملګری صابر امرخیل ته

رژیدلی گل

نن به را ته وژاړی په کو کو

دا سپین ستوری د آسمان

او نن به مر غاری ،
دسپوږ می په اننگو به ،
تودی او ښکی شی
ځکه چی یو گل دپسرلو می‌دخزان له تندی ورژید
۱۳۵۸

د صابر د شهادت د خبر ورځ

دباران پیغله

ماولید له سپینه ـ
خو ځیدله
د اسمان په اننګو کی .

چاوی دور یځو مورده اوس به‌وژاړی، په کوکو.
نه پیغله وه دلمر دسیوری‌لاندی۔
چی اوربښت یی خو څو لو .

لمر ـ حیا ـ مینه

دسحر که دسری لمنی لاند ی
دښکلو ستو رو د خندا په منځ کی
له ډیر ه شر مه یی په شو نډوکی موسکا خوره وه .
هم یی وی ستر گی پر خـــی شوی پخوا

او د بنو غلیو زګیر و یی
سترو له حیا
زه لا هماسی درسوا مینی‌څنګل باندی ویده پاتی وم.

* * *

خو چی دلمر درنا څر ک
له خو به پاڅولم
پرده شوه لری دحیا له مخـی
ستر ګی می‌پورته‌شولی
ومی لید ی
دکسو منځ کی لا
د اوښکو تبسم ته‌یی‌دستو رو ګډا
نومی دلمر درنا هلته غمـازی‌ولیده

فهرست

کڼه	عنوان	مخ
	یاد بښت	لومړی - شپږم
	د «فردا» د «نن» د شاعر ی‌دغه جونګ	لومړی - اتم
۱	د شونډو غزل	۱۷
۲	مینه تسل	۱۹
۳	د اوښکو د موسکا لمنه	۲۱
٤	د مینی اور	۲۳
٥	د مینی هوډ	۲٥
٦	د حسن پانه	۲۷
۷	د اوښکو منزل	۲۹
۸	د تیاری په زړه کی رنا	۳۱
۹	د لوزونو ژړا د هجر سلګی	۳۳
۱۰	د هیلو هسک	۳٥
۱۱	کاته	۳۷
۱۲	د ثور بهارونه د خیبر ګلونه	۳۹
۱۳	د آئیست یاد	٤۱

کنې	عنوان	مخ
١٤	زما اولسه	٤٤
١٥	د شونډو کوثر	٤٥
١٦	د مازیګر په وزرونو	٤٧
١٧	د اوښکو جرګه	٤٩
١٨	غزل	٥١
١٩	ارمان سوی	٥٣
٢٠	خیالی خندا	٥٥
٢١	مینه هوس	٥٧
٢٢	د وعدو په اننګو کی	٥٩
٢٣	اندیښمن پسرلی	٦١
٢٤	ویـــر	٦٣
٢٥	لـمـر	٦٩
٢٦	سنـګـر	٧١
٢٧	د لمرونو کور	٧٥
٢٩	د اوښکو پیغور	٧٨
٣٠	شپو نکیه	٧٩
٣١	سوی ارمان	٨٢
٣٢	مسکو ته	٨٣

کنیه	عنوان	مخ
۳۳	شعره :	۸۶
۳۴	د معنی هوډ	۸۷
۳۵	د خندا شیبه د ژړا تصویر	۸۹
۳۶	د رزمونو مشال	۹۱
۳۷	انځور	۹۵
۳۸	د ژوند پیغله	۹۷
۳۹	انـځو	۱۰۰
۴۰	دخندا د احساس په‌زه	۱۰۱
۴۱	د لمر د پلوشو په کور	۱۰۳
۴۲	د اوښکو و یـر	۱۰۶
۴۳	د بهار د لوپټی نه	۱۰۷
۴۴	د ایمان کور	۱۰۸
۴۵	د مینی پر یښته	۱۰۹
۴۶	د لیمو فرش	۱۱۳
۴۷	د خزان مر ک	۱۱۵
۴۸	د ملیتو نو دوستی	۱۱۸
۴۹	شوروی انسان ته	۱۱۹
۵۰	د سباوون الهام	۱۲۳
۵۱	د وطن په خاطر	۱۲۷
۵۲	نوم ورکو اتلانو ته	۱۳۲

کنیه	عنوان	مخ
۵۴	د لمر ګلونه	۱۳۳
۵۴	د لمر د کلی په لور	۱۳۷
۵۵	د هدف په لور	۱۴۰
۵۶	ا نـخور	۱۴۱
۵۷	پسر لـی	۱۴۳
۵۸	آرمیتاژ ته	۱۴۶
۵۹	د مینی شعر	۱۴۷
۶۰	رژیدلی ګل	۱۴۹
۶۱	د باران پیغـه	۱۵۱
۶۲	لمر ـ حیا ـ مینه	۱۵۳

پـای

PROPERTY OF
ACKU
2808

غلطنامه.

شماره	صفحه	سطر	نادرست	درست
۱	٤۲	٤	کوخو	کو څه
۲	٤۸	٦	د د عا	د د وعا
۳	٦۸	۸	ننکر ها ر	ننګرهاره
٤	۷۲	۳	نړ لیکی	نړیږ ی
٥	۷۲	٦	آزانګهی	آزانکه‌یی
٦	۷۲	۱٥	نړ یکی	نړیږیَ
۷	۷۳	۱۳	تر آبد ه	تر ابده
۸	۷۸	٤	شوه صیا	شوه حیا
۹	۸۲	۱	په نویو	په سویو
۱۰	۸٦	۲	حیران یم	حیران‌یمه
۱۱	۹۲	۱۲	هم خوارو	هم خورو



د ا.د.ج د لیکوالو د اتحادیی

له خپرونو څخه

۹٤